**ليکونکی** : فينښيکوننګهم (Finian cunningham) .
**منبع اوخپريدونيټه** :انفارميشن کليرنګ هوز «31-08-2020 » .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .

-------------------[94]-------------------------------------

# د سی آی ای روږدی کيدل دافغا نستا ن په جنګ کي

# CIA’s Addiction to Afghanistan War



دا د امريکا ترټولو اوږده بهرنی جګړه ده او **د ټرمپ** اداري او طا لب وسله والو ترمينځ د لانجمن سولي تړون سره سره د پای ته رسيدو کومه ځرګنده نښه نه ښيي. د راتلونکي کا ل په جريان کي له افغانستان څخه د متحده ايالاتو سرتيري وتل به له پامه وغورځول شي ، په پا يله کي دسويلي آسيا په هيوادکي داد امريکا يي ځواکونو دوامداره جنګ ده – کوم چي نږدي دوه لسيزي وروسته له هغه کله چي ولسمشر **ډ بليو بوش** د اکتوبر په« 2001 »کي د تلپا تي خپلواکی عمليا ت پيل کړی دي دغه جنګ لاتراوسه دوام لری دا فغا نستا ن په مخکينی زاړه دلد لزاريا با تلاق کی د متحده ايالاتو ښکيلتيا کوم چی دهغه په نتيجه کي په مليونو دالر پيسی په هدر لاړ ،اوپه سلونو زره انسا نا نو خپل ژوند

دلاسه ورکړ اوڅه هم معیوب اومعلول شول یو ناکام دولت سره دامریکی دهڅو سره چې غوښتنه یی ملت جوړونه وه را پا تي شو او دیلواګرو بغا وت لا د پخوا په پرتله نورهم ځواکمن شوی دي ، او همدارنګه په ا فغا نستا ن کي دواشنګتن اعلان شوی ستراتیژیک اهداف هیڅکله هم د **پنټاګون** د لوړ پوړو چاروا کو ترمینځ قا نع کونکی همغږی تر لاسه نشو اوهم د سپټا مبر د یولسم نیټی د تروریزم څخه د غچ اخیستنی لمړنی توجیه په عجیب وغریب بڼی سره تر سترګو کیږي .

حیرانونکي عجبیه خبره دا دي چي واشنګټن د لمړی ځل لپا ره چي د (1970) په وروستي لسیزو کی د لته په ا فغا نستا ن کي ښکیل شو کوم چي هد ف یی دا وه چي د «ویتنام سناریو » د شوروی اتحاد ځواکونو ته چي په کابل کی د متحد دولت څخه سا تنه او دفاع کول جوړ کړي نوامریکی دهمدی اصل له مخی افغا نی مجاهدینو سره ما لی مرستی او د طا لبا نو ودی ته په دوام ورکول لاس پوري کړ تر څو چی واشنګتن په دغه هیواد کی هغه د«ویتنام سناریو »چی امریکی په ویتنام کی ستونزو سره مخامخ وه مسکو لپاره له بدو نه لابد تر سناریو جوړ کړي .

ا فغا نستا ن دامپراتوریو د ګورستان په نوم سره معروفه یا مشهوره دي چي لکه انګلیسا نو ، شورویا نو او اوس امریکا یا نو خپل شا هنشا هی ځواک یا قدرت دلاسه ورکړی او ورکوي یا دهغو قد رت په دی هیواد کي د ړی وړی کیږي اما دلته پوښتنه دا دي ؟ چي ولی اوس امریکا یان ظاهراً په ا فغا نستا ن کی پا تی دي ؟ او ددی وسه نه لري چي خپل ځواکونه په آرامي سره له دی هیواده وبا سي ؟ کوم چي بی له شکه ددی قوتونو پا تی کیدل اودهغه د دلایلو ځني برخي د جنګ بیروکراسي اود نظا می صنعتی مجتمع د باور وړ ګټی پوری تعلق نیسي ،کوم چي دهغه څه څخه خالص تم کیدو(توقف) ته فشارراوړي چي بیغیر له هغي دیو بی ګټی ښکیلتیا سره چي هیحکله نه ختمیدونکي دي هغه همدغه خپه کونکي نامعلومه جګړه دی چي لاتراوسه روانه دي .

بل د لیل هغه داچي شا ید زیات غښتلی وی هغه دمخدره موادو نړیوال تجارتی ګټی راوړونکي راکړی ورکړی اوقاچاق دي چی ممکن دا پخپله په ا فغا نستا ن کی دجګړی ددوام اصلی عامل اووسی اوهغه داچي ولی دا جګړه دوام لري اود اولسمشری ژمنی سره سره بیاهم دغه جګړه نه ختمیږي .د مخدره موادو راکړي ورکړي د (سی آی ای) اود متحده ایالاتو نورواستخباراتی ادارو لپاره یو ما لی حیا تي منبع او سرچینه دي کوم چي دمخدره توکوسوداګري څخه لویه ګټه دا دي چی چند ا ن ما لی بودجه یادولتی تخصیصیه نه لري اودکنګری ترنظارت اویاڅارنی لاندي هم نه دي ،نودغه په «تیاره » کی عایداتی منبع امریکایی اداری ته اجازه ورکوي ترڅوچي پنها نی او پټی عملیا تونه تر سره کړي بی له دی چي دکنجکاو کونکي قانون ګذارانو پوښتنی ته ځواب ورکړي .

دایران او د روسیی لوړ پوړي مقا ما ت په دي ورستیو کي دا سی راڅرګندوی چي دامریکي اطلاعا تي اداري په ډیر شد ید بڼی سره دا فغا نستا ن د مخدره موادو په

راکړي ورکړي کې ونډه لري .

دایران دمخدره موادوپه وړاندي ، دمخدره توکو پرضد داداری ریس «**اسکندر مومنی**» په وینا په ا فغا نستا ن کی د کوکنارو له کښت څخه دهیروینو دتولید کچه دهر یوکا ل په تیرید و سره له هغه وخته چی امریکا یا نو پردغه هیواد باندی تیری کړی بیا تر اوسه هر کال د بل کا ل په پرتله (۵۰) خله د حا صلاتو اندازه زیات شوی اودبلی خوا څخه دباور وړ معلوما تو پر بنسټ ا لوتکي چي د (نا تو) اودمتحده ایالاتو دهوایی ځواکونو په اختیارکی دي له ا فغا نستا ن څخه یعنی زمونږ له ګاوندی هیواد څخه درمل یا مخد ره مواد په غیر قا نونی بڼی سره له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدوي .

په ا فغا نستا ن کي د روسی د اولسمشر ځانګړي استاذی «**ضمیر کابلوف**» په حواله لیکل شوي چی دمخدره توکو په قاچا ق کي د (سی آی ای) مسو لیت په هیواد کي یو (ښکاره راز ) دي چي دمتحده ایالاتو داستخباراتو افسران ......... د مخدره توکو په قاچاق کي دخیل دي ، «کابلوف» وویل : ددوی الوتکو دکندهار ، بګرام [ کابل ته نژدی هوایی ډګر] څخه هر چیری چي دوی وغواړي الوتنی کوي ، جرمنی ، روما نیا البته پرته له کوم نظا رت یا څا رنی څخه .

دغه ادعاوی کوم چي په دی وروستیو وختو کی دامریکی رسنی په خپل بوږنونکی راپورونو کی خپورکړی او دامریکي له نامعلوم اودنه پیژندل شوی سرچینو په قول سره ادعا کړ شوی چی د روسی اود ا یران نظا می لوړپوړی مقا ما ت په ا فغا نستا ن کی د (شکا رچي فضل) په عنوان ، طا لبی شبه نظامیانو ته دامریکایی سرتیرو د وژل کیدو په بدل کی انعام او نقد ینه پیسی ورکوي کوم چی د نړی د خلکو پام ځا نته اړولی دي اما د یا دونی وړ خبره داد ی چي دا د ا مریکی د رسنیوی راپورونو ادعا د روانی اطلاعاتی عملیا تو یوه غوره ځا نګړتیا دی ترڅو چی دنړی اذهان مسموم کړي ، حال داچی رو سیه ،ا یران او طا لبا ن دغه ادعا له بنسټه ردوی ، هغه لا څه چی ترامپ جمهور ریس اود پنتاګون مقامات هم دغه ادعا باندی شک اوشبهه لری او هغه له اسا سه ردوي او بی بنسټه ګڼی .

مګر هغه څه چي اغیزمن بریښی هغه دا دی چي د«ترامپ» اداری له خوا دافغانستان دروانی جګړی دما تید و اود ختمید و لپاره زړه نا زړه هلی ځلی تر سره کیږي .

دملګرو ملتونو د یو رسمی منبع په قول ، افغانستان د نړی دهیروینو (90) سلنه منبع جوړوی کوم چي دهغه زیا ته برخه اروپا یی مارکیټونوته لیږدول کیږي اودځنو اټکلونو له مخي دمخدره توکو بین المللی قاچا ق د نفت اود ګاز په څنګ کی یو له ډیر ګټی راوړنکی متاع یا کا لیو څخه شمیرل کیږي چی دهغه له خرڅلاو څخه تور تر لاسه شوی پیسی دلویوبا نکونو له لاری په مینځلوسره په سپین پیسو اړول کیږی (پول شویی) کوم چی دا موضوع دیو افتضاح په توګه سره د انګلستان (HSBC) با نک وښودل .

*د «سی آی ای » اود امریکی د نورو استخبا راتی او اطلاعا تی آژانسونو لپا ره افغانستان د نا قا نونه مخدره توکو د پیرودلو اود پلورولو اودهغه څخه د پیسو تر لاسه کول یو غول پیکره عایدا تی منبع دی کوم چي د پیسو د پټو یا پنها نی تمویل لپاره دا آسا نه سرچینه ددی لامل ګرځی چي دافغانستان جګړه ډیر عادی وګرځوی چي عادت له لاسه ورنکړي د دی ښکا ره مخفی شبکی په لرلو سره خصوصی الوتکی لرونکی سمند ری بیړي د کالیوکمرکی دیپلوماتیک معافیت ، ملی امنیت جواز اودبیزانس بانکی حسابونه ټول دغه ځا نګړتیا وی (سی آی ای) یی د مخدره توکو دقاچاق لپاره په یوه بشپړ مجرا یا مسیر بدله کړی دي دابزارو اداری یا د وسایلو په لرلو سربیره دنورو جرمی شرکتونو پټه تمویل لپا ره قوی انګیزه هم لري ، لکه د مید یا دعملیاتو نفوذ،رنګي انقلابونه ، ترور ، اودرژسمونو نسکورول یاه هغه ته تغیر ورکول دی .*

*په نړیواله کچه د مخدره توکو په چلولو کې د (سي آی اې )سیستما تیکه ښکیلتیا* ***هغومره*** *زاړه ده چي پخپله دهغه اداره ، په ( 1947 ) کې د سرې جګړې په پیل کې رامینځته شوې. چي د پټو عملیا تو فعا لیت د تعریف له مخې غیرقانوني دی او له همدې امله پټ تمویل یا بودجی ته اړتیا لري. اژانس د خپل لومړنـي عملیا تود تمویل لپاره تمویل شوي غیرقانونـي* ***نا زي سون*** *سره تړاو لري. وروسته ، د مخدره توکو قاچاق د تنظیمي تمویل لپاره د یوې مهمې وسیلې په توګه ننوتل.په سویل ختیځ آسیا کې* ***طلایی مثلث*** *په( 1960) او( 70) مو کلونو کې دکمونیستې ضد پلانونو سپا نسر کولو لپاره مرکزي و ، لکه څنګه چې په( 1980) کې د نیکاراګوا کې د* ***کا نتراپه*** *څیرپراکسي ځواکونوتمویل لپاره کولمبیا او مرکزي امریکا و. افغانستان د سي آی اې جرمي شرکتونو ته د دې نړیوال فعا لیت لپاره کار کوي .*

## ***ددی مقا لی دلیکونکی په اړه څو کرښې :***

*فنین کنینګهم په نړیوالو چارو کې په پراخه کچه لیکنې کړې ، مقالې یې په څو ژبو خپرې کړې. هغه د کرنې په کیمیا کې د ماستر سند لري او د انګلینډ کیمبریج کیمیا د شاهي ټولنې لپا ره د سا ینسي مد یر په توګه کار کوي مخکې لدې چې په ورځپا نه یاژورنالیزم کې کیریر تعقیب کړي. هغه یو موسیقي غږونکی او سندرغاړی هم دی. د نږدې« 20 » کلونو لپاره ، هغه په لوی خبري رسنی سازمانونو کې د مد یر او لیکوال په توګه کار وکړ ، پشمول د آیر ، آیرش تایمز او خپلواک. - "سرچینه" ---------------*

***--------------------------- په سلامونو « 04-09-2020»***